


# د روژې حکمونه

Download from:aghalibrary.com

په فتوا د: ایت الله العظمی سید علی سیستانی

ژباړه: محمدرحیم درانی



## روژه څه ته وايي

روژه د متعال خدای په درگاه کښې د عاجزۍ او خاکسارۍ لپاره د سهار له اذانه واخلې تر ماښام پورې له هغو اتو شيانو ځان ساتلو ته وائي چې وروسته بيانيږي.

## نيت

مسأله ١٥٢٩ ـ ضروري نه ده چې انسان په زړه کښې د روژې نيت وکړي يا ووائي چې سبا به روژه نيسم بلکې هم دومره پوره ده چې اراده يې د خدای پاک په درگاه کښې د عاجزۍ لپاره د سهار له اذانه تر ماښام پورې داسې کار ونه کړي چې روژه پرې ماتيږي، او په دې موده کښې له روژې نه د ډاډمنيدو لپاره بايد د سهار له اذانه لږ له مخکښې نه او د ماښام له پريوتو نه لږ وروسته پورې د روژې له باطلونکي کاره ډډه وکړي.

مسأله ١٥٣٠ ـ انسان د روژې د مياشتې هره شپه د سبانۍ روژې نيولو نيت کوی شي.

مسأله ١٥٣١ ـ  د يو پام لرونکي کس لپاره د رمضان د مياشتې د روژې د نيت وروستی وخت د سهار د اذان وخت دی په دې معنا چې (د واجب احتياط له مخې) پکار دي د سهار په وخت چې ځان له خواراکه ساتی نو نيت سره وی که څه هم دا نيت يې پټ په ضمير کښې وي.

مسأله ١٥٣٢ ـ يو کس که د روژې ماتونکی کار نه وي کړی نو د مستحبې روژې نيت د ورځې په هر وخت کښې کوی شي که څه هم ماښام پريوتو ته لږ وخت پاتې وي، روژه يې سمه ده.

Download from:aghalibrary.com

مسأله ۱۵۳۳ ـ کوم کس چې د رمضان په میاشت کښې او همداشان د هغې واجبې روژې په ورځ چې وخت یې معلوم او ټاکل شوی وي، د سهار له اذانه مخکښې اوده شي نو که له ماسپښینه مخکښې راویښ شي او نیت وکړي نو روژه ئې سمه ده او که له ماسپښینه وروسته راویښ شي نو پکار دي چې د غوځ نزدیکت په نیت (قصد قربت مطلقه) له خوراک څښاکه ډډه وکړي او د هغې ورځې روژه قضا هم وکړي.

مسأله ۱۵۳۴ ـ که څوک وغواړي چې قضا یا کفاره روژه ونیسي نو باید وئې ټاکي مثلاً نیت وکړي چې قضا روژه یا د کفارې روژه نیسي خو د رمضان په میاشت کښې داسې نیت کول ضروري نه دي چې د رمضان د میاشتې روژه نیسم بلکې که نه وي خبر چې د رمضان میاشت ده یا یې هیره وي او د بلې روژې نیت وکړي نو هغه یې هم د رمضان روژه حسابیږي. په نذري او داسې نورو روژو کښې د نذر نیت ضروري نه دی.

مسأله ۱۵۳۵ ـ که خبر وي چې د رمضان میاشت ده او قصداً د بلې روژې نیت وکړي نو کومې روژې نیت یې چې کړی وي هغه هم نه حسابیږي او همداشان د رمضان روژه یې هم نه حسابیږي، که هغه نیت د قربت او نزدیکت د نیت خلاف وي بلکې که خلاف هم نه وي (د احتیاط له مخې) د رمضان د میاشتې روژه نه حسابیږي.

مسأله ۱۵۳۶ ـ که د میاشتې د وړومبۍ ورځې په نیت روژه ونیسي او بیا وروسته پوه شي چې د میاشتې دویمه یا دریمه ورځ وه نو روژه یې صحیح ده.

مسأله ۱۵۳۷ ـ که د سهار له بانګه مخکښې نیت وکړي او بیهوشه شي او د ورځې په هوش کښې راشي نو (واجب احتیاط دا دی چې) د هغې ورځې روژې پوره کړي او د هغې قضا هم ونیسي.

مسأله ۱۵۳۸ ـ که د سهار له اذانه مخکښې نیت وکړي او بیا مست یا نشه شي او د ورځې په هوش راشي نو واجب احتیاط دا دی چې د دغې ورځې روژه پوره کړي او د هغې قضا هم ونیسي.

Download from:aghalibrary.com

مسأله ۱۵۳۹ ـ که د سهار له اذان مخکښې نیت وکړي او اوده شي او له لمر پریوته وروسته راویښ شي نو روژه یې سمه ده.

مسأله ۱۵۴۰ ـ که خبر نه وي یا یې هیر شي چې د رمضان میاشت ده او له ماسپښینه مخکښې خبر شي نو که د روژې باطلونکی کار ئې کړی وي روژه یې باطله ده، خو باید تر ماښامه د روژې باطلونکی کار ونه کړي او له رمضان وروسته د دغې روژې قضا ونیسي. خو که له ماسپښینه وروسته پوه شي چې د رمضان میاشت ده (نو واجب احتیاط دا دی) چې د روژې نیت وکړي خو په دې هیله چې له رمضان مخکښې یې قضا ونیسي. خو که له ماسپښینه مخکښې خبر شي او د روژې باطلونکی کار یې هم نه وي کړی نو پکار دي چې د روژې نیت وکړي او روژه یې صحیح ده.

مسأله ۱۵۴۱ ـ که ماشوم د رمضان په میاشت کښې د سهار له بانګه مخکښې بالغ شي نو پکار ده چې روژه ونیسي او که له اذانه وروسته بالغ شي نو د دغې ورځې روژه پرې واجب نه ده خو که د مستحب روژې په نیت یې روژه نیولې وي نو د هغې پوره کول مستحب دي.

مسأله ۱۵۴۲ ـ څوک چې د یو مړي قضا روژه نیسي یا کفاره روژه پرې پاتې وي، که مستحب روژه ونیسي نو خیر دی خو که د رمضان د میاشتې قضا روژه یې پاتې وي نو مستحب روژه نه شي نیولې، او که هیر یې وي او مستحب روژه ونیسي نو که له ماسپښینه مخکښې یې رایاد شي، هغه مستحب روژه یې خرابیږي او خپل نیت د قضا روژې په نیت بدلولی شي خو که له ماسپښین وروسته پوه شي نو (د احتیاط له مخې) یې روژه باطله ده. البته که له لمر پریوتو وروسته یې رایاد شي نو روژه یې سمه ده.

مسأله ۱۵۴۳ ـ که د رمضان د میاشتې له روژې نه علاوه یوه بله ټاکلې روژه په انسان واجبه وي لکه نذر یې کړی وي چې په فلانی ورځ به روژه نیسي نو که قصداً د سهار تر اذانه نیت ونه کړي روژه یې باطله ده او که نه وي خبر چې د دغې ورځې روژې پرې واجبه ده یا یې هیر شوي وي او له ماسپښین مخکښې یې رایاد شي نو که د روژې باطلونکی کار

يې نه وي کړی او نيت وکړي نو روژه يې صحيح ده، او که له ماسپښين وروسته يې راپه ياد شي نو کوم احتياط چې د رمضان د مياشتې په روژه کښې بيان شو، بايد وشي.

مسأله ۱۵۴۴ ـ که د کفاره روژې په شان د نه ټاکل شوې واجب روژې لپاره قصداً د ماسپښين تر نزديو پورې نيت ونه کړي نو خير دی بلکې که له نيت کولو مخکښې يې د روژې د نه نيولو اراده وي يا په شک کښې وي چې روژه ونيسي که نه، که د روژې باطلونکی کار يې نه وي کړی او له ماسپښينه مخکښې نيت وکړي نو د هغه روژه سمه ده.

مسأله ۱۵۴۵ ـ که د رمضان د مياشتې په ورځ يو کافر مسلمان شي او د سهار له اذانه تر دغه وخته پورې يې د روژې باطلونکی کار نه وي کړی نو (د واجب احتياط له مخې) بايد د «ما فيالذمّه» په نيت د ورځې تر پائې پورې له خوراک څښاکه ډډه وکړي او که داسې و نه کړي نو د هغې ورځې قضا روژه دې ونيسي.

مسأله ۱۵۴۶ ـ که د رمضان په يوه ورځ مريض له ماسپښين مخکښې ښه شي او د هغه وخته يې د روژې کوم باطلونکی کار نه وي کړی نو احتياط واجب دی چې د روژې نيت وکړي او روژه پوره کړي خو که له ماسپښين وروسته ښه شي نو د دغې ورځې روژه ورباندې واجب نه ده او بايد قضا يې ونيسي.

مسأله ۱۵۴۷ ـ په کومه ورځ چې انسان په شک کښې وي چې د شعبان د مياشتې وروستۍ ورځ ده او که د رمضان وړومبۍ، واجبه نه ده چې روژه ونيسي او که روژه نيول وغواړي نو د رمضان د روژې نيت نه شي کولی خو که نيت وکړي چې که رمضان وي نو د رمضان او که رمضان نه وي نو د قضا يا داسې د بلې روژې نيت کوي نو روژه يې سمه ده خو غوره دا ده چې د قضا يا داسې د بلې روژې نيت وکړي او که بيا وروسته معلومه شي چې رمضان و نو روژه يې د رمضان حسابيږي. او که تش د روژې نيت وکړي او وروسته معلومه شي چې رمضان و بيا هم سمه ده.

مسأله ۱۵۴۸ ـ که په يوه ورځ کښې يې شک وي چې د شعبان وروستۍ ده او که د رمضان وړومبۍ نيته او د قضا يا مستحب يا داسې د بلې روژې په نيت روژه ونيسي او د

ورځې خبر شي چې د رمضان میاشت ده نو هغه وخت باید د رمضان د میاشتې د روژې نیت وکړي.

مسأله ۱۵۴۹ ـ که د رمضان په شان یوه معینه واجبه روژه کښې شک وکړي چې خپله روژه ماته کړي که نه، یا د روژې ماتولو نیت وکړي نو که دوه ځله د روژې نیت و نه کړي ، روژه یې باطلیږي او که دوه ځلې نیت وکړي نو احتیاط دا واجب دی چې د هغې ورځې روژه پوره کړي او بیا وروسته یې قضا ونیسي.

مسأله ۱۵۵۰ ـ په مستحبه روژه او هغه واجبه روژه کښې چې وخت یې ټاکل شوی نه وي لکه د کفارې په روژه کښې که د روژې د ماتونکي کار د ترسره کولو نیت وکړي یا دوه زړی شي چې هغه کار وکړي او که نه، خو که د روژې ماتونکی کار ونه کړي او په واجبه روژه کښې له ماسپښینه مخکښې او په مستحبه روژه کښې له لمر پریوتو مخکښې دوباره نیت وکړي، روژه یې سمه او قبوله ده.

## روژه په کومو څیزونو ماتیږي

مسأله ۱۵۵۱ ـ روژه په اتو څیزونو ماتیږي چې په دا ډول دي:

۱: خوراک او څښاک

۲: جماع یا کوروالی

۳: استمناء، استمناء هغه څه ته وائي چې سړی پخپله یا د بل چا په وسیله د جماع یا کوروالي پرته داسې کار وکړي چې مني یې راووځي. په ښځه کښې دغه کار په هغه طریقه دی چې په ۳۴۵ مسئله کښې بیان شو.

۴: په خدای تعالی او پیغمبر اکرم(ص) او د واجب احتیاط له مخې د پیغمبر اکرم(ص) په ځاي ناستو پوري دروغ تړل.

۵: د واجب احتیاط له مخې ستوني یا مرۍ ته د پنډې دوړې رسیدل.

٦: د سهار تر اذانه د جنابت، حیض او نفاس په حالت کښې پاتې کیدل.

۷: په روانو څیزونو سره انیما کول.

۸: قصداً اُلتی یا قی کول.

د دې چارو احکام به په راتلونکو مسائلو کښې بیان شي.

۱: خوراک او څښاک:

مسأله ۱۵۵۲ ـ که روژتي کس ښه خبر وي چې روژه يې ده او قصداً يو څه وخوري يا وڅښي نو روژه يې باطليږي، که د هغه څيز خوړل يا څښل د اوبو او ډوډۍ په شان د معمول څيز وي او که د خاورې او د ونې د شيرې په شان د معمول د خوراک څيز نه وي او که زيات وي که کم، حتی که مسواک له خولې راوباسي او بيا يې خولې ته دننه کړي او رطوبت او لوندوالی يې تير کړي هم يې روژه ماتيږي مگر دا چې د مسواک يا ټوت برش لوندوالی د خولې په لاړو کښې داسې گډ او ختم شي چې ورته د بهر اوبه يا رطوبت نه شي ويل کيدې.

مسأله ۱۵۵۳ ـ که په خوراک کولو لگيا وي او پوه شي چې سهار شوی دی نو بايد له خولې نوړۍ راوباسي او که قصداً يې تيره کړي نو روژه يې باطله ده او د هغه حکم له مخې چې بيا وروسته به ووېل شي، پر هغه کفاره هم واجبه ده.

مسأله ۱۵۵۴ ـ که روژتي کس سهواً يا په غلطۍ سره يو څه وخوري او وڅښي نو روژه يې نه باطليږي.

مسأله ۱۵۵۵ ـ ستن يا پچکاري او ډرپ روژه نه ماتوي که څه هم ستنه د طاقت وي او ډرپ د گلوکوزو يا مالگين وي او همداشان هغه سپری چې د سابندۍ لپاره استعماليږي که دارو يې يوازې سږي ته ورسي نو روژه پرې نه ماتيږي، همداشان په سترگو او غوږونو کښې د دارو څاڅکي په کولو سره روژه نه ماتيږي که څه هم خوند يې ستوني او مرۍ ته ورسيږي. او که په پوزه کښې واچول شي او مرۍ يا ستوني ته ونه رسي نو روژه نه باطلوي.

مسأله ۱۵۵۶ ـ که يو روژتي په غاښونو کښې پاتې څيز تير کړي نو روژه يې ماتيږي.

مسأله ۱۵۵۷ ـ څوک چې روژه نيول غواړي ضروري نه ده چې له اذان مخکښې غاښونه خلال يا پاک کړي خو که پوه وي چې په غاښونو کښې پاتې خوراکي مواد يې د ورځې تيريږي نو پکار دي چې غاښونه پاک کړي.

مسأله ۱۵۵۸ ـ د اچار، لیمبو یا داسې نورو ترشو شیانو په لیدو سره که په خوله کښې اوبه راشي نو د هغو په تیرولو سره روژه نه ماتیږي.

مسأله ۱۵۵۹ ـ د سر او سینې د بلغم تیرول، که د خولې برخې ته نه وي راغلی او له ستوني نیغ تیر شي نو خیر دی خو که خولې ته راشي نو مستحب احتیاط دا دی چې تیر نه کړی شي.

مسأله ۱۵۶۰ ـ که روژتي کس دومره تږی شي چې له تندې یې د مړ کیدو ویره پیدا شي یا ورته نقصان ورسي یا دا چې دومره سخته پرې راشي چې زغمل یې ګران وي نو د دغو ستونزو د ویرې د ختمیدو په اندازه اوبه څښلی شي بلکې د مرګ او داسې نورو نورو شیانو په شان ویره کښې اوبه څښل واجب دي خو روژه به یې ماتیږي. او که د رمضان میاشته وي دا احتیاط ضروري دی چې له هغې اندازې زیاتې اوبه ونه څښي او په پاتې ورځ کښې هم د روژې کوم باطلونکی کار ونه کړي. او قضا یې بیا ونیسي.

مسأله ۱۵۶۱ ـ د ماشوم یا مارغه لپاره په غاخونو د خوراک نرمول، د خوړو څکل او داسې نور کارونه چې معمولاً مرۍ یا ستوني ته نه رسیږي، که اتفاقاً مرۍ ته ورسیږي هم روژه پرې نه ماتیږي خو که روژتي له مخکښې نه پوه وي چې مرۍ ته رسیږي نو روژه یې ماتیږي او د دغې روژې قضا باید ونیسي او کفاره هم پرې واجبه ده.

مسأله ۱۵۶۲ ـ انسان د کمزورۍ په وجه روژه نه شي خوړی خو که کمزوري یې دومره زیاته وي چې معمولاً د زغملو نه وي نو د روژې خوړل پروا نه کوي.

## ۲ ـ جماع:

مسأله ۱۵۶۳ ـ جماع یا کوروالی کول روژه ماتوي که څه هم د ختنې تر ځایه داخل شي او مني هم و نه وځي.

مسأله ۱۵۶۴ ـ که د ختنې له ځایه کم داخل شي او مني و نه وځي نو روژه نه باطلیږي. خو که یو کس د ختنې ځاي و نه لري که د ختنې د ځاې له اندازې کم هم داخل کړي نور روژه یې ماتیږي.

مسأله ۱۵۶۵ ـ که قصداً د جماع نیت وکړي او بیا شک وکړي چې د ختنې تر ځایه داخل شوی که نه، نو د دې مسئلې حکم همهغه د (۱۵۴۹) مسئلې حکم ګڼل کیږي او په هره بڼه کښې که د روژې باطلونکی کار یې نه وي ترسره کړی نو کفاره یې وربانديې واجبه ده.

مسأله ۱۵۶۶ ـ که روژه یې هیره وي او جماع وکړي او یا یې جماع کولو ته داسې مجبور کړي چې د هغه له واک او اختیاره وتلې وي نو روژه یې نه ماتیږي خو که د جماع کولو په وخت یې روژه وریاده شي یا یې مجبوري ختمه شي نو باید سمدستي جماع پریږدي او که پرې یې نه ږدي نو روژه یې باطله ده.

## ۳ ـ استمناء:

مسأله ۱۵۶۷ ـ که روژتي کس استمناء وکړي چې معنا یې په ۱۵۵۱ مسئله کښې تیره شوې، نو روژه یې ماتیږي.

مسأله ۱۵۶۸ ـ که د یو چا مني بې اختیاره راووځي نو روژه یې نه ماتیږي.

مسأله ۱۵۶۹ ـ که یو روژتي پوهیږي چې که اوده شي نو محتلم کیږي یعنې په خوب کښې یې مني وځي نو اوده کیدل یې جایز او روا دي که هم د نه اوده کیدو په وجه ورته

تکلیف او زحمت نه رسي او که غسل پرې واوړي یعنې مني یې ووځي نو روژه یې نه ماتیږي.

مسأله ۱۵۷۰ ـ که روژتي کس د مني د راوتلو په وخت له خوبه ویښ شي نو واجبه نه ده چې د مني د راوتو مخه ونیسي.

مسأله ۱۵۷۱ ـ محتلم شوی روژتي بول کولی شي که څه هم پوه وي چې په بول کولو سره پاتې مني راوځي.

مسأله ۱۵۷۲ ـ که یو روژتي باندې په خوب کښې غسل واوړي یعنې محتلم شي او خبر وي چې څه مني دننه پاتې ده او که له غسل کولو مخکښې بول و نه کړي نو له غسل وروسته بهر راوځي نو مستحب احتیاط دا دی چې له غسل کولو مخکښې بول وکړي.

مسأله ۱۵۷۳ ـ که څوک قصداً د مني د ایستلو په نیت لوبې او مستي وکړي او مني یې و نه وځي نو که دوه ځله د روژې نیت و نه کړي (د روژې د ماتولو نیت وکړي) روژه یې باطله ده او که د روژې نیت وکړي د احتیاط دا دی چې دغه روژه سر ته ورسوي او قضا یې هم نیسي.

مسأله ۱۵۷۴ ـ که یو روژتي د مني د ایستلو له نیت پرته مثلاً له خپلې ښځې سره لوبې او مستي وکړي نو که ډاډه وي چې مني یې نه وځي خو که اتفاقاً ووځي نو روژه یې سمه ده خو که ډاډه نه وي نو که مني یې ووتله، روژه یې باطله ده.

## ۴ ـ پر خدای پاک او پیغمبر اکرم حضرت محمد مصطفی(صلی الله علیه وآله) او معصومو امامانو (علیهم السلام( پورې دروغ تړل

مسأله ۱۵۷۵ ـ که روژه داره کس په ویلو یا لیکلو یا حتی په اشارې او داسې نورو کارونو سره په الله پاک جل جلاله، پیغمبر اکرم حضرت محمد مصطفی(صلی الله علیه وآله)

او معصومو امامانو (علیهم السلام) پورې قصداً یوه دروغ خبره وتړي نو که څه هم سمدستي ووائي چې دروغ وایم یا توبه وکړي، خو روژه یې د ضروري احتیاط له مخې باطله ده او همداشان مستحب احتیاط دا دی چې په حضرت بي بي فاطمه زهرا سلام الله علیها او نورو پیغمبرانو او د هغوي په ځاې ناستو پورې د دروغو تړلو هم، همدا حکم دی.

مسأله ۱۵۷۶ ـ که روژتي وغواړي یوه داسې خبره چې د هغه په حجیت دلیل نه لري او نه پوهیږي چې رښتیا ده که دروغ او نقل کول یې وغواړي نو واجب احتیاط دا دی چې باید د نقلِ قول په طریقه یې ووائي او له پیغمبراکرم(ص) او امامانو علیهم السلام سره دې نیغ په نیغه نسبت ورنکړي.

مسأله ۱۵۷۷ ـ که د خدای تعالی یا پیغمبر اکرم(ص) له قوله په دې عقیده یو څه نقل کړي چې رښتیا دي او بیا وروسته پوه شي چې دروغ وو و روژه یې نه ماتیږي.

مسأله ۱۵۷۸ ـ که په یوه خبره خبر وي چې دروغ ده او بیا یې هم په خدای او پیغمبر پورې وتړي او بیا وروسته پوه شي چې دغه کړې خبره یې رښتیا وه نو که خبر و چې په دغه کار یې روژه ماتیږي، د ضروري احتیاط په اساس پکار دي روژه سر ته ورسوي او د هغې قضا هم ونیسي.

مسأله ۱۵۷۹ ـ که د بل چا لخوا جوړ شوي دروغ قصداً په خدای پاک، پیغبر اکرم(ص) او معصومو امامانو(ع) پورې وتړي نو ضروري احتیاط دا دی چې روژه یې باطله ګڼلې کیږي خو که دغه دروغ د هغه د جوړونکي له قوله نقل کړي نو خیر دی.

مسأله ۱۵۸۰ ـ که یو روژتي کس نه پوښتنه وشي چې آیا پیغمبر اکرم(ص) داسې کومه خبره فرمایلې ده او هغه په هغه ځاې کښې چې په ځواب کښې باید ووائي نه خو قصداً ووائي هو، یا چرته چې باید هو ووائي هلته عمداً ووائي چې نه، نو ضروري احتیاط دا دی چې روژه یې باطله ده.

مسأله ۱۵۸۱ ـ که د خدای پاک یا پیغمبر(ص) له قوله رښتیا خبره وکړي بیا ووائي چې دروغ مې ویلي دي یا د شپې په خدای او پیغمبر پورې دروغ وتړي او په سبا ئې چې روژه وي، ووائي چې بیګانۍ خبره یې رښتیا ده نو د احتیاط په اساس یې روژه باطله ده مګر دا چې مقصد یې د خپل خبر د حال بیانول وي.

## ۵ ـ ستوني یا مرۍ ته د پنډې دُوړې رسول:

مسأله ۱۵۸۲ ـ احتیاط واجب دی چې حلق یا ستوني ته د پنډې دوړې رسیدل روژه ماتوي که هغه دوړه د خوراک لپاره د حلال څیز وي لکه د اوړو دوړه او که د حرام شي لکه د خاورې.

مسأله ۱۵۸۳ ـ که دوړه پنډه نه وي نو مرۍ ته په رسیدو سره یې روژه نه ماتیږي.

مسأله ۱۵۸۴ ـ که د سیلۍ په وجه زیاته او پنډه دوړه راوچته شي او انسان سره له دې چې پوهیږي چې ځان ترې ساتلی شي خو احتیاط و نه کړي او دوړه یې مرۍ ته ورسیږي نو د واجب احتیاط له مخې یې روژه ماتیږي.

مسأله ۱۵۸۵ ـ واجب احتیاط دا دی چې روژتي د سیګرټ، تنباوکو او د داسې نورو شیانو لُوګې هم حلق ته ونه رسوي.

مسأله ۱۵۸۶ ـ که احتیاط و نه کړي او دوړه یا لوګې او داسې بل څیز یې مرۍ ته ننوځي نو که یقین یا ډاډ ولري چې حلق ته یې نه رسیږي، روژه یې سمه ده او که تش ګمان یې کړی وي چې ستوني ته به یې نه رسیږي نو غوره دا ده چې د هغې روژې قضا ونیسي.

مسأله ۱۵۸۷ ـ که روژه یې هیره وي او احتیاط و نه کړي یا دوړه او د هغې په شان بل څیز یې بې اختیاره مرۍ ته ورسیږي نو روژه یې نه ماتیږي.

مسأله ۱۵۸۸ ـ په اوبو کښې ټول سر ډوبول روژه نه باطلوي خو کار سخت مکروه دی.

## ۶ ـ د سهار تر اذانه په جنابت، حیض او نفاس کښې پاتې کیدل:

مسأله ۱۵۸۹ ـ که یو جنب شوی کس د رمضان په میاشت کښې قصداً د سهار تر اذانه غسل و نه کړي یا که وظیفه یې تیمم وي او ویې نه کړي نو پکار دي د هغې ورځې روژه سر ته ورسوي او بله ورځ هم روژه ونیسي، او له دې سببه چې دا پته ورته نشته چې دا روژه قضایي ده که د سزا په طور ده نو د روژې د میاشتې هغه روژه هم د )ما فی‌الذمه( نیت سره ونیسي او هم چې کله د دې په ځای بله روژه نیسی نو هغې کښې دې هم د قضا نیت نه کوی.

مسأله ۱۵۹۰ ـ څوک چې د رمضان د میاشتې قضا روژه نیول غواړي نو که د سهار تر اذانه عمداً جنب پاتې شي، په دغه ورځ روژه نه شي نیولی او که قصداً جنب نه وي پاتې شوی نو نیوی شي که څه هم احتیاطاً یې نه نیول غوره دي.

مسأله ۱۵۹۱ ـ د رمضان د روژې او د هغې له قضا پرته یعنې په مختلفو واجب یا مستحب روژو کښې که جنب شوی کس د سهار تر اذانه په جنابت کښې پاتې شي بیا هم د هغې ورځې روژه نیوی شي.

مسأله ۱۵۹۲ ـ که یو کس د رمضان د میاشتې په یوه شپه جنب شي نو که قصداً غسل و نه کړي او وخت پرې تنګ شي نو باید تیمم وکړي او روژه ونیسي او روژه یې سمه ده.

مسأله ۱۵۹۳ ـ که د جنب شوي کس د رمضان په میاشت کښې غسل کول هیر شي او یوه ورځ وروسته وریاد شي نو پکار دي د هغې ورځې د روژې قضا ونیسي او که څو ورځې

وروسته ور په یاد شي نو د هغو ټولو ورځو د روژو قضا باید ونیسي چې یقین یې وي، مثلاً که نه پوهیږي چې درې ورځې جنب پاتې شوی که څلور ورځې نو پکار دي د دریو ورځو قضا روژې ونیسی.

مسأله ۱۵۹۴ ـ له چا سره چې د رمضان د میاشتې په کومه شپه کښې د غسل یا تیمم کولو وخت نه وي او ځان جنب کړي نو روژه یې باطله ده او قضا او کفاره دواړه پرې واجب دي.

مسأله ۱۵۹۵ ـ که پوه وي چې د غسل کولو وخت نه لري او ځان جنب کړي او بیا تیمم وکړي یا دا چې وخت وي خو قصداً غسل وځنډوي څو وخت پرې تنګ شي او بیا تیمم وکړي نو روژه یې سمه ده خو ګناهګار دی.

مسأله ۱۵۹۶ ـ څوک چې د رمضان د میاشتې په کومه شپه جنب وي او پوهیږي چې که اوده شي نو تر سهاره نه شي راویښیدی- واجب احتیاط دا دی چې- له غسل کولو پرته اوده نه شي او که له غسل کولو مخکښې په خپله خوښه اوده شي او تر سهاره راویښ نه شي نو باید د هغې ورځې روژه سر ته ورسوي او د هغې قضا او کفاره هم وربانديې واجبه ده.

مسأله ۱۵۹۷ ـ که یو جنب شوی کس د رمضان په شپه کښې اوده شي او بیا ویښ شي، که احتمال یې وي چې که بیا اوده شو نو د سهار له اذانه مخکښې راویښیدی شي نو اوده کیدې شي.

مسأله ۱۵۹۸ ـ څوک چې د رمضان په شپه کښې جنب شوی وي او یقین او ډاډ یې وي چې که اوده شي نو د سهار له اذانه مخکښې راویښیدی شي نو که نیت یې دا وي چې له راویښیدو وروسته به غسل کوي او په دې نیت اوده شي خو د سهار تر اذانه اوده پاتې شي نو روژه یې سمه ده.

مسأله ۱۵۹۹ ـ څوک چې د رمضان په شپه کښې جنب وي او ډاډه نه وي چې که اوده شي نو د سهار له اذانه مخکښې راويښيدی شي نو که غفلت وکړي چې له راويښيدو وروسته به غسل وکړي او اوده شي او د سهار تر اذانه اوده پاتې شي نو د واجب احتياط له مخې وربانديې قضا واجبه ده.

مسأله ۱۶۰۰ ـ څوک چې د رمضان په شپه کښې جنب شوی وي او يقين لري يا احتمال ورکوي چې که اوده شي نو د سهار له اذان مخکښې راويښيدی شي، که له راويښيدو وروسته يې د غسل کولو اراده نه وي نو که اوده شي او له اذانه مخکښې ويښ نه شي نو بايد د دغې ورځې روژه سر ته ورسوي خو د هغې قضا او کفاره هم وربانديې ضروري ده. او د لازم احتياط له مخې که له راويښيدو وروسته يې د غسل په کولو يا نه کولو کښې شک وي نو هم بايد روژه پوره کړي او قضا او کفاره يې بايد ورکړي.

مسأله ۱۶۰۱ ـ که جنب شوی کس د رمضان په شپه کښې اوده شي او بيا ويښ شي او يقين يې وي يا فکر کوي چې که دوباره اوده شي نو د سهار له اذانه مخکښې ويښيږي او نيت يې هم دا وي چې کله راويښ شي نو غسل به کوي خو که چيرې يوځل بيا اوده شي او د سهار تر اذانه راويښ نه شي د هغې ورځې د روژې قضا بايد ونيسي او که په دويم ځل له خوبه ويښ شي او په دريم ځل اوده شي او د سهار تر اذانه اوده پاتې شي نو د هغې ورځې د روژې قضا دې ونيسي او مستحب احتياط دا دی چې کفاره يې ورکړي.

مسأله ۱۶۰۲ ـ که په يو کس په خوب کښې غسل واوړي (جنب شي) نو دغه خوب يې وړومبی خوب ګڼل کيږي په دې وجه که له ويښيدو وروسته دوباره اده شي او د سهار تر اذانه بيدار نه شي نو لکه څنګه چې په تيره مسئله کښې وويل شول، د هغې ورځې د روژې قضا بايد ونيسي.

مسأله ۱۶۰۳ ـ که په روژتي کس باندې د ورځې په خوب کښې غسل واوړي نو ضروري نه ده چې سمدستي غسل وکړي.

مسأله ۱۶۰۴ ـ که د رمضان په میاشت کښې د سهار له اذانه وروسته ویښ شي او ووینې چې غسل پرې اوړیدلی دی نو که پوه وي چې دغه کار له اذانه مخکښې شوی بیا یې هم روژه سمه ده.

مسأله ۱۶۰۵ ـ څوک چې د رمضان د روژې قضا نیول غواړي که د سهار له اذان وروسته ویښ شي او ووینې چې محتلم شوی(په خوب کښې جنب شوی) دی او دغه کار له اذانه مخکښې شوی دی نو په دغه ورځ د رمضان د میاشتې د قضا روژې په نیت روژه نیولی شي.

مسأله ۱۶۰۶ ـ که یوه ښځه د رمضان په شپه کښې د سهار له اذانه مخکښې له حیضه یا نفاسه پاکه شي او قصداً غسل ونه کړي او که وظیفه یې تیمم وي او تیمم ونه کړي نو د هغې ورځې روژه باید سر ته ورسوي او د هغې قضا هم ونیسي. او که د رمضان میاشتې د قضا روژې لپاره په دغه بڼه کښې قصداً غسل یا تیمم ونه کړي د واجب احتیاط له مخې په دغه ورځ روژه نه شي نیولی.

مسأله ۱۶۰۷ ـ هغه ښځه چې د رمضان په یوه شپه کښې له حیض یا نفاسه پاکه شي که عمداً غسل ونه کړي او وخت پرې لنډ تنګ شي نو باید تیمم وکړي او د دغې ورځې روژه یې هم صحیح ده.

مسأله ۱۶۰۸ ـ که یوه ښځه د رمضان میاشتې په شپه کښې له حیض یا نفاسه پاکه شي او د غسل وخت و نه لري نو باید تیمم وکړي خو ضروري نه ده چې د سهار تر اذانه ویښه ووسي. او د جنب حکم هم همداسې دی په هغه حال کښې ذمه یې تیمم وي.

مسأله ۱۶۰۹ ـ که ښځه د رمضان په میاشت کښې د سهار اذان ته نزدې له خوبه ویښه شي او نه د غسل کولو وخت وي او نه د تیمم نو روژه یې صحیح ده.

مسأله ۱۶۱۰ ـ که ښځه د سهار له اذان وروسته د حیض یا نفاس له وینې پاکه شي یا د ورځې حیض یا نفاس ووینې نو که لمر پریوتو ته لږ وخت هم پاتې وي، روژه یې باطله ده.

مسأله ۱۶۱۱ ـ که د ښځې د حیض یا نفاس غسل کول هیر شي او پس له یوې یا څو ورځو وریاد شي نو کومې روژې چې یې نیولې دي، سمې دي.

مسأله ۱۶۱۲ ـ که ښځه د رمضان په میاشت کښې د سهار له اذانه مخکښې له حیض یا نفاسه پاکه شي او په غسل کولو کښې څنډ او سستي وکړي تر اذانه غسل و نه کړي او د وخت د کمي په وجه تیمم هم و نه کړي- لکه څنګه چې په تیرو مسئلو کښې راغلي- نو د هغې ورځې روژه باید پوره کړي او قضا یې هم ونیسي خو که د حمام د زنانه کیدو یا خالي کیدو په تمه شي، نو که څه هم دري ځلې اوده شي او تر اذانه غسل و نه کړي خو په تیمم کولو کښې سستي و نه کړي نو روژه یې سمه ده.

مسأله ۱۶۱۳ ـ که یوه ښځه د استحاضه کثیره په حال کښې وي نو که څه هم خپل غسلونه په هغه تفصیل سره ترسره نه کړي چې په (۳۹۴) مسئله کښې د استحاضې په احکامو کښې تیر شوي، روژه یې سمه ده. هماغه شان چې که په متوسطه استحاضه کښې که غسل هم و نه کړي، روژه یې صحیح ده.

مسأله ۱۶۱۴ ـ که چا مړی لمس کړی وي- یعنې د خپل بدن کومه برخه یې د مړي له بدن سره لګولې وي- د مسِ میت له غسل کولو پرته روژه نیولی شي او که د روژې په حال کښې هم په مړي پورې لاس یا بل اندام ولګوي روژه یې نه ماتیږي.

### ۷ ـ انیما کول (غټې کولمې ته د اوبو یا بلې هرې مایع ننباسل)

مسأله ۱۶۱۵ ـ په روان څیز سره اماله کول که څه هم د مجبورۍ له امله او د علاج او درملنې لپاره وي، روژه باطلوي.

### ۸ ـ التې یا قې کول:

مسأله ۱۶۱۶ ـ که روژتي کس قصداً اُلتې وکړي که څه هم د مرض یا د داسې بلې مجبورۍ په وجه وي، روژه یې باطلیږي. خو که سهواً یا بې اختیاره التې وکړي نو خیر دی.

مسأله ۱۶۱۷ ـ که د شپې داسې څه وخوري چې پوهیږي د هغه په خوړو سره د ورځې مهال بې اختیاره التې کوي نو روژه یې سمه ده.

مسأله ۱۶۱۸ ـ که روژتي کس له التې (کانګې) کولو ډډه وکړی شي بیا هم که په طبیعي توګه التې ورشي، ضروري نه ده چې مخه یې ونیسي.

مسأله ۱۶۱۹ ـ که د روژه دار ستوني ته مچ ننوځي نو که دومره زیات دننه تللی وي چې تیرولو ته یې خوړول نه شي ویل کیدې نو ضروري نه ده چې رابهر یې کړي او روژه یې پرې نه ماتیږي، خو که په ستوني کښې زیات دننه نه وي تللی نو پکار دي رابهر کړی شي که څه هم دا کار د التیو (باقیو) کولو سبب وګرځي-مګر دا چې التې کول د هغه لپاره تاوان یا ډیره سختي ولري- او که التې پرې و نه کړي او تیر یې کړي روژه یې ماتیږي او که په التیو کولو سره یې رابهر کړي هم یې روژه باطلیږي.

مسأله ۱۶۲۰ ـ که سهواً یا په غلطۍ سره یو څیز تیر کړي او معدې ته له رسیدو مخکښې ور په یاد شي چې روژه یې ده نو که دومره لاندې تللی وي چې که معده ته یې ورسوي، خوړل ورته نه ویل کیږي نو ضروري نه ده چې هغه راوباسي او روژه یې سمه ده.

مسأله ۱۶۲۱ ـ که یقین یې وي چې په اډرکي کولو سره یو څه له ستوني بهر راوځي، که چیرې داسې وي چې التې یا باقۍ کول ورته ویل کیدې شي نو قصداً دې اډرکی نه کوي جو که یقین یې نه وي نو خیر دی.

مسأله ۱۶۲۲ ـ که په اډرکي کولو سره کوم څیز ستوني یا خولې ته راشي نو پکار دي چې ویې تُوکي او که بې اختیاره یې تیر شي نو روژه یې سمه ده.

## د روژې د مبطلاتو او مکروهاتو احکام

### د روژې د باطلونکو شیانو احکام:

مسأله ۱۶۲۳ ـ که انسان قصداً او پخپل واک او اختیار سره د روژې باطلونکی کار وکړي نو روژه یې ماتیږي. خو که عمدي نه وي نو خیر دی. خو جنب شوی کس که اوده شي او په (۱۶۰۰) مسئله کښې بیان شوي تفصیل ته په پام سره د سهار تر اذانه غسل و نه کړي نو روژه یې باطله ده. که چیرې یو انسان نه وي خبر چې له ذکر شویو شیانو په ځینو روژه ماتیږي نو که په دغه ناپوهۍ کښې یې سستۍ نه وي کړې او شک یې پکښې هم نه وي یا دا چې په شرعي حجت باندې اعتماد ولري او هغه کار ترسره کړي، روژه یې نه ماتیږي خو په خوراک، څښاک او جماع سره ماتیږي.

مسأله ۱۶۲۴ ـ که روژتي کس قصداً د روژې یو باطلونکی کار وکړي او په دې باور چې روژه یې باطله شوې ده، قصداً یوځل بیا روژه ماتونکی کار ترسره کړي نو د هغه په اړه هم د تیرې مسئلې حکم جاري کیږي.

مسأله ۱۶۲۵ ـ که د روژتي په ستوني کښې په زور یو څه واچول شي نو روژه یې پرې نه ماتیږي خو که مجبور کړی شي چې په خوراک، څښاک یا جماع کولو سره خپله روژه ماته کړي، مثلاً ورته وویل شي چې که ډوډۍ ونه خورې نو د سر یا مال تاوان درته رسوو، او خپله له دغه تاوانه د ژغورنې لپاره څه وخوري، روژه یې باطلیږي. او د یادو شویو درې څیزونو نه علاوه هم واجب احتیاط دا دی چې روژه یې ماتیږي.

مسأله ۱۶۲۶ ـ روژتي کس له داسې ځای ته تګ نه دی پکار چې پوهیږي هلته یې په مرۍ کښې یوڅه وراچول کیږي یا یې مجبوروي چې پخپله روژه ماته کړي او که لاړ شي او د مجبورۍ له امله پخپله داسې یو کار وکړي چې روژه پرې ماتیږي، نو روژه یې باطله ده

او همداشان ضروري احتیاط دا دی چې که په ستوني کښې هم څه ورواچول شي هم باطله ده.

## د روژتي لپاره مکروه شیان

مسأله ۱۶۲۷ ـ د روژتي کس لپاره څو څیزونه مکروه دي او هغه دا دي:

1 - په سترګو کښې دارو (څاڅکې) او هم رانجه اچول، د هغو خوند یا بوې حلق ته ورسیږي.

2 - د وینه اخیستو یا لامبلو په شان د هر هغه کار ترسره کول چې د کمزورۍ سبب کیږي.

3 - په پوزه کښې دارو (څاڅکې) اچول که چیرې نه وي خبر چې مرۍ ته رسي، او که پوه وي چې ستوني ته رسیږي نو له سره جایز نه دي.

4 - د خوشبویه ګیاهانو بوی کول.

5 - په اوبو کښې د ښځې کښیناستل.

6 - د شیاف کارول.

7 - د بدن د لباس یا جامې لوندول.

8 - غاښ ایستل او هر هغه کار چې له امله یې خوله وینې کیږي.

9 - په لوند ډکي مسواک کول.

10 - بې وجې اوبه یا روان څیز په خوله کول.

او هم مکروه دي چې انسان د مني ایستلو له نیت پرته خپله ښځه ښکل کړي یا داسې کار وکړي چې شهوت یې ورسره راپاریږي.

Download from:aghalibrary.com